مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۷/۰۷

# ساده‌ګي به هر وخت چلیږي

د دري ژبو متل دی وايي: ((چیزې بخور خود پسند، چیزې بپوش خلق پسند)) یانې خوراك په خپله طبع وکړه؛ خو جامې د خلکو په خوښه واغونده. زما په نظر که څه هم د انسان فردي ازادي ډېر اهمیت لري؛ خو انسان په هر مورد کې مختار مجبور دی. موږ خپل اختیار لرو، کولای شو په کلي کې پتلون واغوندو؛ خو که غواړو چې کلیوال راته په ښه نظر وګوري، مجبور یو چې د هغوی په شان کالي واغوندو. موږ د وګړو د شخصیت په هکله د هغوی د خبرو او کړو وړو پر اساس قضاوت کوو؛ که یو څوك وینو مخکې تر دې چې خبرې یې واورو او د خوی بوی پته یې ولګوو، د هغه د ظاهر پر اساس اټکلي قضاوت کوو. د انسان په ظواهرو کې د هغه د ویښتانو ډول، نظافت، سلیقه او کالي شامل دي. نو د دې لپاره چې هر څوك په لومړي نظر زموږ په باره کې ښه قضاوت وکړي، باید خپل ظاهر ته هم پام وکړو.

له خپل عمر او کار و بار سره سم، مناسبې جامې اغوستل هر چا ته په کار دي. یو ځوان محصل پېژنم چې ښه درانه خویونه لري، د ځینو ملګرو خبره ((ښه ځیږ پښتون دی))؛ خو اکثراً داسې پتلونونه اغوندي چې سورى سورى وي او په پایڅو کې یې د ورانه په حصه کې وسپنیزې کړۍ ځوړندې وي. کمیسونه یې هم زنځیرونه او کړۍ لري. اکثر وختونه یې د ګلابي، سور یا نورو شوخو رنګونو کمیسونه په تن کې وي. د هغه جامې له شخصیت سره یې اړخ نه لګوي.

یو مشر ډاکتر دی، چې هر وخت یې وینم کمیس او کورتۍ به یې ګونځې ګونځې وي. که نابلده سړی یې ووینې نو ګومان به یې نه شي چې دی به ډاکتر وي.

زموږ د ولسمشر کالي هم اکثراً د تیاره رنګونو لکه د سرمه یې رنګ وي، دا ورسره ښه نه ښکاري. د تیاره رنګونو جامې هغه کسان کوي، چې یا یې د مینځلو وس نه لري او یا یې داسې کار و بار وي، چې کالي په کې ژر ژر خیرنیږي. ولسمشر چې په کلونو کلونو د ګرد مخه نه ویني، باید راڼه رنګونه واغوندي.

زما په عمر د خت پرتوګ او دریشیو ډېر موډونه راغلل او ولاړل. پایڅې یو وار ارتې وې، بیا تنګې شوې، بیا ارتې شوې او اوس منځنۍ اندازه لري. د کورتیو او د ختونو غاړې هم کله پرېړې او کله نرۍ شي؛ خو یو شی چې په هر وخت کې به وچلیږي، ساده ګي ده. بالکل لکه د تعمیرونو او د کړکیو او دروازو د ډول په څېر. پینځوس شپیته کاله پخوا به دروازې او کړکۍ داسې جوړېدې چې په لرګیو کې به یې ګلونه کیندل او د شیشو ځایونه به یې خورا ډولي جوړول، لرګي به یې تېر بېر سره واوبدل. بیا ساده نجارۍ موډ شوه، اوس یو ځل بیا ډولي کړکۍ جوړیږي. که د کړکیو بل ډول موډ شي؛ نو اوسنۍ ډولي کړکۍ به بدې وبرېښي؛ خو ساده کړکۍ په هېڅ دور کې هم بدې نه برېښي. د ویښتانو ډول هم باید له خپل موقف سره سم غوره کړو، ځینې کسان شته چې ښه پوه او ان د پوهنتون استادان وي؛ خو ویښته داسې جوړوي چې سړی د لوچکو هلکانو ګومان پرې کوي. د پوځ پخواني مسلکي منصبداران په ویښتو پېژندل کېږي، دوی هېڅ وخت د ځټ او ټیکونو ویښته نه اوږدوي؛ خو مستعجل افسران بیا بیټل ګرځي. په ځوانۍ کې ممکن هر ډول سټایل له سړي سره ښه ښکاره شي؛ خو په پاخه عمر کې نه. که سړی له خپل عمر او موقف سره سم خپل ظاهر اعیار نه کړي؛ نو لکه هغه ماشوم به ښکاره شي، چې سر یې د برېتور ځوان وي؛ خو سټه یې د پینځه کلن ماشوم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ